# د اشرف خان هجري د بندي کېدو علتونه

## Causes of Ashraf Khan Hijree's Imprisonment by Mughals

وزیر شادان [*]

**Abstract:** *The role of Khushal Khan Khattak and his family has been of great value in shifting the paradigm of Pashto literature. Due to his fierce rivalry with the Mughal Empire especially in the era of Aurangzaib Allamgeer, several wars have been fought between the Mughals and Afghans. Ashraf Khan Hijree (1044-1116 Hijree) the well-known classical poet and the eldest son of Khushal Khan have always fought in the leadership of his father. In the last days of Khushal Khan, his most reliable and likeminded son Ashraf Khan was detained by Mughals till the last moments of his life. In this paper, the scholar has traced history to figure out the reasons that caused Ashraf Khan Hijree's imprisonment.*

اشــرف خــان هجــري (1044- 1106هــ ش) د خوشــحال خــان ختـهـك مشــر زوئ او ولـي عهـد ؤ. د خپـل پـلار پـه څېـر ئـې پـه شـعر او ادب کښـې نـوم پيـدا کـړی ؤ او هـم ئـې د تـورې شـرنګ پـه خپـل دور خـور ؤ. هـم ئـې د مغلـو لـه پلـوه جنګونـه کـړي دي او هـم د هغـوئ خـلاف جنګېـدلی دی. پـلار او زوئ دواړو د ازادۍ او خپلـواکۍ هڅـې کـړې دي. دواړه پښـتني جـاګيرداران او د مغلـو منصـب داران پـاتې شـوي دي. دواړه د مغلـو قيـديان تېـر شـوي دي. د اشـرف خـان هجـري د ژونـد اخرنـۍ برخـه د پـلار پـه څېـر بـې يـاره بـې وطنـه او لـه درد ډکه وه.

اشــرف خــان هجــري د مغلــو د لاســه درې ځلــه زنــداني شــوی دی. پــه 1074هــ ش کښــې چــې کلــه خوشــحال خــان پــه زنځيرونــو کښــې ډيلــي تــه بــوتلی شــو، د خوشــحال دښــمنانو د خوشــحال کــورنۍ ورانــول غوښــتل، خدايار خليـل او جګـرام هنـدو اشـرف خـان ولمسـولو او د منصـب پـه لالـچ ئـې

---

[*] Assistant Professor, Government Post Graduate College Kohat

کابل ته وغوښتو خو هلته سېد امیر خان څوك چې په هغه وخت د کابل صوبه دار ؤ او خوشحال هم دهغهٔ په سازش زنداني ؤ څهٔ موده پس ئې اشرف خان هم بندي کړو خو د خوشحال دوست دلېر همت ئې ضمانت وکړو او له قیده ئې خلاص کړو.

کله چې د مغلو د ظلم او زور له وېرې د خوشحال خان بال بچ په "سیکري" کښې په پناه اخستو مجبور شول نو سېد امیر یو ځل بیا اشرف خان گرفتار کړو. په دغه نیونه دلېر همت د سېد امیر خان نه سخت ناراضه شو خو د پښتنو په وطن فساد جوړ شو اشرف خان ئې ازاد کړو.

په درېم ځل جمادی الاول 1092هـ ش، مئ 1681ء راجه رام سنگهه سره جمرود کښې د ملاقات نه پس خپل دوست سېد بهولا کره پېښور ته راستون شو او هلته د صوبه دار سېد امیر خان په حکم په دهوکه گرفتار کړلی شو. په گوالیار او بیجاپور کښې تر څوارلس کالونو قیدي وساتلی شو او هم په زندان کښې په 1106هـ ش کښې مړ شو.

اشرف خان هجري ولې زنداني شو؟. د دې ډېر علتونه دي خو ځنې په کښې په دې ډول دي:

(1) **ازاد او خپلواکه پښتون**: پښتون او ازادي د یو بل سره داسې تینگ تړلي دي چې بېلول ئې په مرگ دي. ازادي د پښتون فطرت دی، د پښتون ښکلا ده، د پښتون ننگ دی هم دغه وجه ده چې پښتون د زړهٔ نه د چا غلامي نهٔ ده منلې او همېشه استعماري قوتونو سره په لاس او گرېوان پاتې شوی دی.

اشرف خان هجري د ننگیال خوشحال مشر زوئ او جانشین ؤ. د هغهٔ په فطرت کښې هم ازادي وه. هم په دغه سبب ئې همېشه د خپل ازاد وطن ارمان کړی دی.

"ختېك سود د منصب ولیدو په سترگو
د اوربشو یو کنډك په وطن سپور وي"(1)

"د وطـــن عـــېش و هـــوا بـــه مـــې هېـــر نـــۀ شـــي
بېجـــاپور کـــه هـــر څـــو ډك همـــه لـــه زرکـــا" (2)

"بېجـــاپور هجـــري پـــه خـــوب ليـــدلی نـــۀ ؤ
اخـر پــېښ شـي هغـه کـار چـې ئـې قضـا کـا" (3)

همدغـه د ازاد او خپلواکـه ژونـد مينـه وه چـې د هجـري د قيـد سـبب شـۀ. په دغه حواله پوهاند عبدالحی حبيبي ليکي:

"هجري د وطن غوښتونکو په ګناه مغولو بندي کړی ؤ"(4).

صديق الله رښتين په يوه مقاله کښې ليکلي دي:

"د خوشــحال او اشــرف خــان د بنــدي کېــدو پــه علتونــو کښــې نــورو ليکوالـو ډېـر څۀ ليکلـي دي. مګـر کـه چـرې مـونږ د تـاريخ پـه پټهو پـردو کښـې سـر ورننباسـو او د تـاريخ پـه فلسـفه او علـت پسـې وګرځـو نـو هلتـه بيـا دا خبـره پـوره جـوتيږي چـې د خوشـحال، اشـرف خـان يـا د دغسـې نـورو پښـتنو مشرانو د بندي کېدو علت يواځې د خپلواکه ژوند غوښتنه وه او بس.

پښــتنو خپلــواکي او د عــزت ژونــد غوښــتۀ او مغلــو د دۀ ځــل تتــل او بــې واکـي غوښـتله..... د پـردو حکومتونـو پـه خيـال پـه يـوۀ اولـس کښـې د پـوه او هوښـيار سـړي پيـدا کېـدل لـوئ جـرم دی او دغـه د خوشـحال، اشـرف خـان او د داسـې نـورو ملـي پښـتنو ګنـاه وه. خوشـحال خـان خپـل هنـر د ځـان تـاوان ليـدۀ او پـه دغـه ګنـاه نيـول شـوی ؤ. اشـرف خـان هـم د پـلار يـو پـوه، هوښـيار او د مشــرۍ وړ زوئ ؤ او د دوئ ګنــاه هــم دغــه وه اورنګزېــب او د مغلــو صــوبه دارانـو سـېد اميـر خـان خـوافي، مهابـت خـان او نـورو دی پـه همدغـه جـرم څـو ځلـه نيـولی ؤ. خـو د ويـرې او طمعـې تـر مينـځ کشـمکش روان ؤ. اخـر اشـرف خـان د همېشـه دپـاره د اميـر خـان نـومې صـوبه دار د چـل او ټګـۍ پـه دام کښې کښېوت"(5).

**(2) د صوبه دار په رکاب کښې تر کابله تللو څخه احتراز کول**

د اشـرف خـان د بنـدي کېـدو پـه علتونـو کښـې يـو علـت دا ؤ چـې صـوبه دار د کابـل اميـر خـان کابـل تـه د تلـو پـه وخـت خـواهش ظـاهر کـړو چـې اشـرف

خان سره د خپلو سړو راسره په ملګرتيا کښې لاړ شي خو اشرف خان و نۀ منل او د امير خان زړۀ ترې بد شو چې نتيجه ئې د اشرف خان قيد وګرځېده. په دغه حواله زرين انځور ليکي:

"کله چې امير خان وغوښتل چې کابل ته لاړ شي نو له اشرف خان څخه ئې هيله وکړه چې خپلو سړيو سره يو ځاى ته هم راسره په جلب کښې لاړ شي. هجري د صوبه دار دغه هيله و نۀ منله"(6).

او دغه رنګ د دې موقعې څخه بهرام خان فايده واخستله.

## (3) ازاد ګګيانړى

ازاد ګګيانړى د امير خان سخت مخالف ؤ. صوبه دار غوښتل چې ازاد ګګيانړي ته په څۀ نۀ څۀ ډول سخته سزا ورکړي خو اشرف خان نۀ غوښته چې ازاد ګګيانړى ګرفتار شي. هغۀ په سوات کښې پناه اخستې وه. او له سواته به ئې په مغلي فوځونو حملې کولې، او بال بچ ئې اشرف خان ځان سره محفوظ ساتلي وو په دغه وجه هم د صوبه دار او د اشرف خان ترمينځه فاصلې زياتې شوې وې. دوست محمد خان کامل په دغه حواله ليکي:

"امير خان په دوو درو خبرو د اشرف خان څخه ناراضه ؤ. چې په هغه کښې يو د اشرف خان خپلوان ازاد ګګيانړي باغي کېدل ؤ او دوېم د صوبه دار سره کابل ته د تللو څخه د اشرف خان احتراز کول ؤ. ازاد ګګيانړى اشرف خان سوات ته وليږلو او بال بچ ئې د ځان سره وساتل. ازاد ګګيانړي د سوات نه په دوابې تاخت وکړو او حالات ئې ولړزول"(7)

## (4) بنګشو ته بخښنه کول

کله چې مغلي فوځدار ترين خان سره د بنګشو ناچاقي راغله نو صوبه دار امير خان د ترين خان د فوځي کومک دپاره اشرف خان ته ځواب راوليږۀ، اشرف خان د ملك ميري بنګش په قلعه کښې حصار کړو. دښمنان ئې زېر کړل خو لعل بېګ او ملك مينا حسن خېل ورته په ننواتې راغلل په

پښتو ورته پرېوتل، اشرف خان ئې ننواتې قبوله کړه او بنگش ئې معاف کړل. په دغه سبب ورنه د صوبه دار زړۀ مات شۀ. تاریخ مرصع لیکي:

"لعل بېگ او ملك مینا راغلل، لعل بېگ لاس په نام خان جنت نښان ته ودرېدو و ئې ژړل چې نن ورځ دِ مونږ د گټې ده که مو قتلوئ که مو ساتئ. اگرچې خان جنت نښان په خپل خلوت کښې اووې چې بنگش مو قدیم غلیم دی او د امیر خان دل ازردگي به هم په دا کښې پیدا شي او که قتل ئې کړم خپله دښمني به مو ترسره شي او امیر خان به رضامند شي، اما خپلې لوئ ته وکتل او نظر ئې په خپل ښك نیت وکړ، خپل غرض ئې ترك کړ او ازردگي د امیر خان ئې اختیار کړه. بنگش ته ئې امن ورکړۀ" (8).

او دغه رنگ د اشرف خان هجري خپله خودي پښتو او ازادي د هغۀ د اسیرۍ سبب شوه.

**(5) د مغلو په خلاف مبارزې**

خوشحال خان په کال 1089هـ ش کښې د مغل له بنده خلاص شو او هغۀ د خپلې بې گناهۍ او د مغلو بې ځایه ظلم په وجه کلکه اراده کړې وه چې:

"و مغل ته به خبرې په وربوز کړم
سر مې پرېوزه که به سر ورته بیا کوز کړم" (9)

"چې پښتون شوم په دا هسې سپینه ږیره
نور مې خدای مه کړه مغل وائم په ځیره" (10)

په دغه سبب هغۀ د مغلو په خلاف او د پښتون په ننگ توره پورته کړه او په مغل ئې اور بل کړ. اشرف خان هم تر ډېرې مودې د خوشحال سره مټې په مټ ولاړ ؤ او د مغلو د اشرف خان دغه کردار کله هېرېدی شو. کله ئې چې لاس پرې بر شو نو اشرف خان ئې د پلار په ځېر زنداني کړو.

**(6) د شیخ رحمکار کاکا صاحب ښېرې**

د خټکو درسته کورنۍ د کاکا صاحب عقیدتمنده وه د هغۀ یو زوئ شیخ ضیاء الدین د خوشحال زوم ؤ. خو زرپرست او شر پسند ؤ.(11)

بهرام به ئې بیا بیا لمسولو او د خوشحال د کور جنګونه شاید چې د شېخ ضیاء الدین د فاسدي کردار په وجه زیات شوي وو. د ځنې روایتونو تر مخه اشرف خان د خپلې سردارۍ په اوان شېخ ضیاء الدین قید کړی ؤ او بیا د دهٔ په اشاره زهر ورکړلی شوي وو(12).

تواریخ خورشید جهان په دغه حواله لیکي:

"خوشحال خان خپل ځای و اشرف خان ته ورکړ او په دغه سبب د هغهٔ ورور بهرام خان د هغهٔ دښمن شهٔ او د کاکا صاحب فرزند ضیاء الدین د هغهٔ مرسته وکړه او اشرف خان په دغه وجه ضیاء الدین قید کړو او په دغه کار ورځنې اورنګزېب خفه شو او اشرف خان ئې زنداني کړو"(13).

په هرحال د اشرف خان ځنې شعرونه هم مونږ ته ښائي چې اشرف خان خپل ځان ګنهګار ګڼي بلکې د یو شعر تر مخه خو قید هم د دې ناراضګۍ سبب ګڼي:

"زهٔ په بند د اورنګ نهٔ یم چې به خلاص شم
بندي کړی شېخ رحمکار زېړي کاکا یم" (14)

یو بل ځای لیکي:

"زهٔ ګنهګار یم زېړه کستیره
د نورو ډېرو ولې ستا په تیره
صغیر چې خطا شي کبیر ئې عفو کا
بنده معاف کړه ماه منیره(15)

د اشرف خان هجري د پورتنیو ورکړی شوو شعرونو نه جوته ده چې کاکا صاحب د هغهٔ نه ناراضه ؤ او ښېرې ئې ورته کړې وې او په دغه وجه هجري د قید صعوبتونه برداشت کړل.

**(7) د بهرام سازش**

مغلو په هر ډول د پښتنو سرتېتي او نااتفاقي غوښتله، کله ئې چې اشرف خان په خپل مراد پوره و نهٔ ختلو نو بهرام ته ئې دانه واچوله او د

بهرام په توره ئې پښتانهٔ ووژل. پلار او ورور ئې په لړزان کړل. بهادر شاه ظفر کاکاخېل ليکي:

"هغه (مهابت خان صوبه دار) د اشرف خان او بهرام خان د مخالفت نه فايده واخسته، اشرف خان اګرچې د حکومت منصبدار ؤ. ليکن محبت خان د هغه په رويه شکمن ؤ. دغه وجه ده چې هغهٔ د بهرام خان حوصله افزائي شروع کړه او هغهٔ ته ئې د خپل امداد او حمايت يقين ورکړو"(16).

"بهرام هم وغوښتل چې ځان تر ټولو وړاندې مغلو ته نزدې کړي او د اشرف خان هجري په ځای خپله دی مشر او سردار شي. د خپل دغه مرام دپاره ئې له هيڅ ډول هڅو ډډه و نهٔ کړه. ځان ئې په زياتو هلو ځلو د هند د مغلي دولت واکمنو مقامونو ته نزدې کړ او د خوشحال خان ختټک او اشرف خان هجري په وړاندې ئې جګړې وکړې"(17).

سېد رسول رسا په دغه لړ کښې ليکي:

"د بهرام په سازش سره په کال 1683ء کښې اشرف خان د مغلو په لاس بندي شو...... د اشرف خان په بندي کېدو پسې د ختټکو سرداري مغلو بهرام ته وبخښله"(18).

تاريخ مرصع د بهرام په حواله ليکي چې بهرام د مغلو سره لوظ کړی ؤ چې که منصب د ختټکو راکړی نو پلار او ورور به لاس نيولي مغلو ته ورکړم"(19). خوشحال بابا هم وئېلي دي:

"مشر ورور دې په زندان کړو تهٔ خاني کړې
دا خاني دې شه په ځان پورې حرامه" (20)

**(8) د خوشحال وينه**

خوشحال د مغلو دپاره تندرِ عظيم ؤ. د قيد نه پس مغلو د سرو مهرونه د کهسار په لور راخوارهٔ کړل. ډېر چلونه ئې وکړل خو خوشحال ئې په هيڅ ډول خپل نهٔ کړی شو. اشرف خان چې کله مغلو قيد کړو نو هغوئ د دې ويرې نه هم د خلاصولو جرات نهٔ کولو چې ګنې دا هم د خوشحال زوئ دی. هسې نه چې د خوشحال په څېر راته بلا وګرځي. هم له

دغه وېرې مغلو ځوارلس کاله په قید کښې وساتلو. حتٰی چې په قید کښې مړ شو خو مغلو راپرې نۀ ښود. زرین انځور لیکي:

"سره له دې چې اشرف خان هجري د هند د مغولي مستبد دولت له خوا څۀ وخت دپاره د خپلو خلقو او خپل اولس په وړاندې ودرېدو خو وروسته جوته شوې ده چې هجري لکه د خپل باتور پلار په څېر د پښتنو د رښتینو مشرانو حېثیت لري او نۀ شي کولی چې تر پایه پورې د دوئ په خوښه لاړ شي. د هجري ځوارلس کاله بند زمونږ دغې خبرې ته لاقوت ورکوي او که فرضاً د هجري د زنداني کېدلو علت کومه بله موضوع وی. کېدی شول چې له څو کلونو او څۀ مودې وروسته هغه بېرته له زندانه څخه راخوشی شوی وی. ښکاري داسې چې د اشرف خان هجري او مغلو تر مینځ اختلاف یوه قوي رېښه لري، ښائي هغوئ دغه ډار لرلو چې که هجري له زندان څخه خوشی شي نو خامخا به په مجموعي ډول د مغولو په وړاندې د پښتنو په راپاڅولو او هڅولو او مبارزه او جګړه کښې د مخکښې یا مخکښانو په توګه اغېزمن نقش ولوبوي او که د اختلاف بنسټ په داسې موضوع نۀ وی نو شاید دومره اوږدۀ او ابدي زندان موضوع له مغولو سره په دومره جدیت نۀ وی مطرح"(21).

په لنډه توګه مونږ وئیلی شو چې مغل او پښتانۀ د اور او اوبو په څېر همېشه راسې د یو بل مخالف پاتې شوي دي. اشرف خان هجري هم پښتون ؤ او په تېره تېره د هغه خوشحال خان خټک جانشین ؤ چا چې د قید نه پس د پښتنو خاوره په مغولو اور کړه او ګرد مغل ئې تر پوزې راوستي وو. همدغه سبب ؤ چې د نورو ملي پښتنو په شان ئې اشرف خان هجري هم د هجرت په زنځیرونو کلک وتړلو او د خپل فطري نفرت، غصې او ویرې په سبب ئې تر مرګه په زندان کښې وساتلو.

# حوالې


(1) هجري، اشرف خان، ديوان اشرف خان هجري مرتبه همېش خليل، (پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ 248.
(2) هم دغه، مخ 48.
(3) هم دغه، مخ 36.
(4) حبيبي، عبدالحی، پښتانۀ شعراء لومړی ټوک، پښتو ټولنه کابل، 1320هـ ش، مخ170.
(5) رښتين، صديق الله، وړمه، لومړی او دوېمه ګڼه، کابل، 1340هـ ش مخ 32.
(6) انځور، زرين، د زنځيرونو شاعر، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل، 1344ش، 1985ء مخ 35.
(7) کامل، دوست محمد خان، خوشحال خان خٹک، (اردو) ادارہ اشاعت سرحد پشاور، 1951ء، ص 202.
(8) افضل خان، تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل، (يونيورسټي بک ايجنسي پېښور) مخ 351.
(9) خټك، خوشحال خان، ارمغانِ خوشحال، د سېد رسول په زيار، يونيورسټي بك ايجنسي پېښور، دوېم ځل 2001ء، مخ 1021.
(10) هم دغه مخ 1020.
(11) افضل خان خټك، تاريخ مرصع، مخ 301.
(12) کامل، دوست محمد خان، مقدمه، تاريخ مرصع، مخ 31، 33.
(13) تواريخ خورشيد جهان، مخ 244، په حواله د زنځيرونو شاعر، زرين انځور، مخ 47.
(14) هجري، اشرف خان، ديوان اشرف خان هجري، مخ 134.
(15) هم دغه، مخ 385.
(16) کاکاخېل، بهادرشاه ظفر، پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې، يونيورسټي بك ايجنسي، مخ 777.

(17) انځور، زرين، د زنځيرونو شاعر، مخ 53.
(18) رسا، سيد رسول، مقدمه، ارمغان خوشحال، يونيورستي بك ايجنسي پېښور، مخ 52.
(19) خټك، افضل خان، تاريخ مرصع، مخ 301.
(20) خټك، خوشحال خان، كليات خوشحال، ترتيب و تدوين، پردل خټك، محكمه ثقافت صوبه سرحد، مخ 250.
(21) انځور، زرين، د زنځيرونو شاعر، مخ 55.